د ایست مترو د خدمتونو اداره دځوانانودپا ره دآنتيیودرواني روغتیا یومنل شوی روغتیایی مرکز دی چه دځوانانواو ددوی دکورنیودپاره دتورانتوپه ختیځ کی ددرش کالورا هیسی خدمت کوی.

په دغه اداره کی مونږ په پر له پسی توګه کوښښ کووچه ځوانان به ډیره ښه وجه خپل شخصی ژوند ته په لاندی توګه خپل کړو:

- ددوی روانی روغتیا ښیګڼه
- دکورنی اوټولنی سره ګډه همکاری
- ګټه وره برخی اخیستل او ملګرتیا

## زمونږ عقیده

دایست میترو دخدمتونو به اداره کی مونږ په دی باور یوچی:

- زمونږ په کمیونیتی کی د ځوانانولپاره تر ټولو ښه د حل لاری ته تر جیح ورکړل شی.
- دځوانانو اوددوی کورنیو سره باید به احترام اوعزت چلند وشی.
- دځوانانو او ددوی د کورنیوورتیااو با لقوه استعدادونه باید وپیژندل شی او ارزښت ورکړل ښی.
- زمونږ دکارکونکو او رضاکارانود برخی اخیستنی اهمیت دځوانانو، کمیونیتی او دایست مترو د خدمتونو له اداره سره، قدر وشی.
- مسلکی اجراآت دمراجعینو پر توانمندیو او مشهود کلتوری وړ تیاو پر بنسټ ولاړدی.
- نرمښت ، ابداع او انفرادی کړنلاری، دښه خدمتو نووړاندی کولو لپاره ښه لارښود دی.
- ګډه ملګرتیا چی به نتیجه کی یی ځوانانو دپاره ګټه وره لاس ته راوړنی منځ ته راځی باید انکشاف ورکړشی.
- ښه کیفیت درهبری، ایما نداری، وړتیا او دمسؤلیت د احساس ددرلودلوپر بنسټ لاس ته راځی.

## زمونږ پروګرامونه

دسلا مشوری پروګرام
دایست مترو د خدمتو نو اداره ، ځوانانو اوکورنیودپاره درواني نا روغتیا، دزده کړی کمزور تیا، خشونت، جنسی مسایل، خپګان، ځان ته تاوان رسول او دغوسی له امله مشکلاتو سره په مقابله کی هر اړ خیزه پروګرامونه وړاندی کوی.
ورځنی معالجه
دغه پروګرام د TDSB سره په مرسته مخی ته بیول کیږی. دغه پروګرام یو معالجوی چا پیریال دنوی ځوانانودپاره منځ ته راوړی چی دوی ته دستونځو سره د مقابلی توان ورکړی.
همدا رنګه دوی ته دکار د داخلیدواو ښوونځیو ته بیرته راتګ په بر خه مرسته کوی.

پر مختیایی پروګرامونه
پر مختیایی پروګرامونه دځوانانو او تنکی ځوانانو دپاره پراخه او هر اړخیزه بروګرامونه دی چی لږ یا متوسط کم رشدی لری او سلوکی، هیجانی، او روانی ستونځو سره مخامخ دی.

برسیره پردی ه غږ خلکولپاره چی آتیزم لری او بهمتوسط یا پرمخ تللی ذهنی اختلال اخته دی ، خدمتونه وړاندی کیږی.

دهستوګنی د معالجی پروګرام
دغه پروګرام تنکی ځوا نا نوته چی ۱۸-۱۲ کالو عمر لری او یونه یو روحی، احساسی یاسلوکی ستونځو سره مخامخ دی اودا ستونځی ددوی توانمندیو باندی بده اغیزه لری ، ځای ورکوی.

خشونت ته د مداخلی پروژه
دغه پروژه د ځوانانو دپاره د خشونت د مخنیوی په برخه کی د برخه اخیستنی یوه پروژه ده چی دوی تشویقوی ترڅو خپل نظریات، وړتیاوا د حل لاری دښوونځی او اجتماع ( کمیونیتی) د خوندی توب په خاطر په کاروا چوی.
خشونت ته د مداخلی پروژه پراخه او هراړخیزه څه متو نه دښوونځیو، ټولنیزومرکزونو، دځوانانو دخوندی کیدوځایونه او نورو موسساتودپاره چی ځوانانو لپاره کار کوی، برابره وی.

په EMYS کی محرمیت
د ایست مترود خدمتونواداره دمنلی شوی معیارونوپر بنسټ چی د آنتریود روانی روغتیا او قانون له خوا جوړشوی، مکلف دی چی محرمیت محفوظ وساتی. زمونږ د بشری قواوود ډیپارتمنت یو غړی د محرمیت دپالیسی د تطبیق مسوولیت لری او نور کار کوونکی دکړن لاری او اجرا آتوباندی ښه بهه دی.
شخصی معلومات په ډیر دقت په نظر کی نیول کیږی او مراجعینوته ددغومعلوماتود استفادی په هکله خبرورکول کیږی او ددوی دلیکنی اجازه پرته هغه معلومات دهیڅ یو بل هدف لپاره په کار نه وړل کیږی. دغه اجازه نامه کیدای شی هر وخت بیرته واخستل شی.

اړیکی

د کار وخت

| | |
|---|---|
| دوشنبی تر پنجشنبی: | د سهار د ۹ تر ما ښام ۸ پوری |
| جمعه: | د سهار د ۹ ترمازیګر ۵ پوری |


| | |
|---|---|
| پته: | ۱۲۰۰ مارکم روډ ۲۰۰ آبارتمان<br>سکار بورو، آنتاریو، M1H 3C3 |
| تیلفون: | 416-438-3697 |
| فکس: | 416- 438-7424 |
| ایمیل او ویب سایت: | emys@emys.on.ca<br>www.emys.on.ca |